# ذهني معلولیت څه ته وایي؟

ذهني معلولیت یعني د درک او احساس حس کمزوری ته ذهني معلولیت وایي او یا په بل عبارت؛ ځیني کسان د ژر زده کولو پر ځای هره زده کړیزه پروسه ډېره په سختۍ او په ځنډ پای ته رسوي؛ خو دا بیا په دې مانا نه ده چې یاد کسان ساده، کمعقل/ بېعقل کسان وبولو. ممکن دا خلک تر نورو عادي کسانو یو شی ژر زده نه شي کړای، ورځنۍ چارې سمې سمبال نه کړي؛ اما په ډېر زیار او د نورو په مرسته بلاخیره هرڅه سمېدلای شي.

ذهني ستونزه یا معلولیت په بېلا بېلو برخو وېشل شوی دی:

۱ .کمزوری/ خفیف ذهني معلولیت: تقریباً ۸۵ سلنه ماشومان له دې ستونزې سره مخ کېږي. تر درس ویلو مخکې کومه ځانګړې ستونزه نه لري. ( آی کیو) یې له ۵۰ تر ۷۰ وي. کله کله دوی نه شي کولی انتزاعي مفاهیم درک کړي؛ خو په خپلواک ډول کار کولی شي.

۲ .منځنۍ ذهني معلولیت: ۳۵-۵۴ سلنه دی. دوی کولی شي ټولنې ته ورګډ شي، په ټولنه کې فعال ګډون ولري؛ ځکه دوی کولی شي د خبرو او ژوند کولو مهارتونه زده کړي. سره له دې بیا هم د دوی زده کړیزه پروسه یو څه سسته وي. په ښوونځي کې کمزوري وي. دوی کولی شي خپل اختیار واخلي؛ خو تر ډېره خپلواک نه شي پاتې کېدلی.

۳ .شدید ذهني معلولیت: د دوی سلنه له ۲۰ نه تر ۳۴ ده. دا ماشومان یوازې د دوامدارو زده کړو په مرسته کولی شي د ژوند اړین مهارتونه زده کړي. دوی باید په امن او هوسا ځای کې وي چې له هر ډول وېرې او فشار څخه لرې پاتې شي.

۴ .ژور ذهني معلولیت: دا تر ټولو ډېر د اندېښنې وړ دی. یوازې یو یا دوه سلنه ماشومان دا ډول وي. دوی ډېر زیات معلول دي. دوی څارنې ته اړتیا لري؛ ځکه ذهن یې سم کار نه کوي. سمه زده کړیزه پروسه ښایي دوی سره په کمه اندازه مرسته وکړي.

ولې ماشومان او ځوانان ذهني معلولیت پیدا کوي؟

د نړیوالې سروې له مخې، ۳۰سلنه زیات معلولیت په جنیتیک (ارثي) پورې اړه لري. دوی معمولاً له ( ډاون سنډروم، ماتېدونکي اېکس سندورم) څخه ځورېږي.

دویم دا چې که یو کس پر سر سخته ضربه وخوري او ماغزه التهابي کړي. دا بیا وروسته د حافظې، پاملرنې، استدلالي ستونزې ورته پیدا کوي او د یو چا د ذهني معلولیت سبب ګرځي.

دریېیم لامل یې ناروغي ده؛ هغه ماشومان چې مورزادي ناروغی لري، کېدای شي دا ستونزه ورته پیدا شي.

څلورم له زهري توکو سره سروکارهم د ذهني معلولیت سبب ګرځي. هغه ماشومان چې له دغو زهري توکو( سرب، جیوه، کاډیوم) سره سروکار پیدا کړي، عقلاني ستونزې ورته پیدا کوي.

د ذهني معلولیت نښې:

۱ .وینایي ستونزې

۲ .د خبرو کولو په پار په سختۍ زده کړه

۳ .د توکو هېرول

۴ .د یو شي د یاد ساتلو ستونزه

۵ .کمزروي اکاډمیک فعالیتونه

۶ .ژور خپګان/افسردګی

۷ .غوسه

۸ .د کالیو پر اغوستلو سم نه پوهېدل

۹ .ځان ته د زیان رسولو تکل

۱۰ .کمزورې ټولنیزې اړیکې

۱۱ .مور/پلار سره بې حده زړه تړل

۱۲ .د لید ستونزې، بویایي ستونزې او یا حسي ستونزې

۱۳ .تر نورو ماشومانو په ځنډ په پښو راتلل

۱۴ .تر ډېر وخته په سینه ښوېدل

د نړیوال روغتیایي سازمان د څېړنو پر بنسټ په نړۍ کې ۱۰تر۲۰ سلنه ماشومان او ځوانان ذهني معلولیت لري. د دې ډول کسانو روزل او پالنه ډېر زیات سخت کار دی، خورا لویه حوصله او زغم غواړي؛ خو له دوی سره خواخوږي، صمیمیت او نیکه رویه نه یوازې دا چې د دوی لپاره تر ټولو غوره درملنه ده؛ بلکه دا دې ټولو سالمو کسانو مسوولیت او مکلفیت هم دی چې د ټولنې له دې ځوریدلي قشر سره ښې اړیکې وپالي او همېشه پرې د رحم او مهربانی نظر ولري.

لیکوال: جمعه نور مجبور

سرچینې

namnak.com

Www.behzisti.ir

Www.sibofen.com

www.yaraan.com